# صفة الوضوء والصلاة (مرئي)

ځنګه اودس وکړم؟

م

غږ

1

د اذان غږ ..

2

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}

[اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! کله چې تاسو لمانځه ته پاځيږئ، نو تاسو خپل مخونه او خپل لاسونه تر څنګلو پورې ووينځئ او د خپلو سرونو مسح وکړئ او تر ګيټو (بښنګرو) پورې خپلې پښې (ووينځئ)].

[سورة المائدة: ايت 6]

3

له اودس پرته لمونځ نه سميږي، له نيت پرته اودس نه سميږي، او له اخلاص پرته نيت نه سميږي، او د نيت ځای زړه دی نه ژبه.

4

بسم الله ..

د الله په نوم پیل کوم ..

د اوداسه په پیل کې بسم الله ویل مشروع دي.. نو اودس پرې پیلوو، بیا د امکان په صورت کې د خولې د پاکولو لپاره مسواک استعمالوو..

5

لاسونه درې ځلې مینځو، د ګوتو له څوکو څخه یې پیلوو د لاس تر مړوند پورې..

6

بیا لاسونه تر څنګلو پورې په پرله پسې ډول درې ځلې مینځو.

7

او پیل به په ښي لاس سره وي، هغه به درې ځله وینځو، بیا به ورپسې چپ لاس درې ځلې و مینځل شي.

8

لکه څرنګه چې جواز لري چې یو ځلې ښی لاس و مینځو بیا کیڼ لاس، بیا ښي لاس بیا کیڼ لاس و مینځو.. او همدارنګه.

9

او باید ډاډ ترلاسه کړو چې زموږ د ګوتو مینځ ته اوبه رسیدلي دي..

10

بیا مضمضې او استنشاق ته اوړو ..

11

مضمضه (د خولې مینځل) په خوله کې د اوبو په اچولو سره ترسره کیږي، او دا چې د هغې دننه حرکت ورکړي، بیا یې غړغړه کړي او بیا یې وغورځوي.

12

او استنشاق (پوزې ته د سا په کش کولو سره اوبه رسول او بیا یې بیرته په چپ لاس سره راویستل او سوڼ کول دي.

13

سنت عمل دا دی چې که چیرته روژه ونه لرو او یا له کوم ضرر څخه ویره و نه لرو نو باید چې مبالغه پکې وکړو.

14

مضمضه او استنشاق لپاره دوه طریقې شتون لري:

15

الوصل؛ هغه داسې چې یوه لپه اوبه واخلو، په نیمایي سره مضمضه وکړو او بیا به پاتې نیمایي سره یې استنشاق وکړو...

اوبه په خوله کې غړغړه کوو او بیا به یې اچوو، بیا هغه اوبه مو چې استنشاق کړې وې په کیڼ لاس سره سوڼ کوو...

دا کار په درې لپو اوبو سره درې ځلې کوو.

16

جلا کول داسې کیږي چې مونږ د مضمضې او استنشاق لپاره جلا جلا لپه اوبه کاروو، یوه لپه اوبه اخلو او ټولې خولې ته اچوو، بیا یې په خوله کې اړوو راړوو، بیا یې غورځوو،

بيا دويمه لپه اوبه پوزې ته کش کوو بيا يې بېرته په چپ لاس سره سونړ کوو...

17

د مضمضې او استنشاق پسې: د مخ وينځل دي ..

18

په اوږدوالي د مخ اندازه د سر د ويښتانو د شنه کيدلو له ځای څخه د زنې تر لاندينۍ برخې پورې، او په پلنوالي (عرض) سره: له يوه غوږ نه تر بل غوږ پورې ده.

19

او د مخ ټول ويښتان مينځل واجب دي؛ لکه د رنګړی ږيرې ويښتان، بريتونه، وريځې، بانه، او هغه ويښتان چې د ټيټې شونډې لاندې شنه شوي وي..

20

د مخ مينځلو لپاره دوه طريقې شتون لري:

21

لومړی: په دواړو لاسونو اوبه راخلو، بيا په هغو سره د سر د ويښتانو د شنه کيدو له ځای څخه د زنې تر لاندينۍ برخې پورې، او له ښي غوږ څخه تر کيڼ غوږ پورې وينځو ، که ږيره ګڼه وي نو سنت ده چې تر زنې لاندې اوبه ورسوو او د ږيرې لاندې برخه په ګوتو سره خلال کړو.

دا کار درې ځلې ترسره کوو، چې دا بشپړ عمل دی، يا دوه ځلې، او يا هم يو ځل چې دا واجب دی.

22

دویم: اوبه یوازې په ښي لاس سره راخلو، بیا یې مخ ته اچوو بیا د مخکینی طریقې په څېر په دواړو لاسونو سره مخ مینځوو.. دا کار درې ځلې ترسره کوو..

23

د اودس په غړو کې ترتیب واجب دی، او همدارنګه د هغو تر منځ همغږي هم واجب ده، پدې معنا چې یو غړی د بل غړي څخه مخکې نکړو، او له یوه غړي څخه بل غړي ته په انتقال کې ځنډ ونه کړو..

24

د مخ له وینځلو وروسته، د لاسونو مینځلو ته انتقالیږو.

25

د لاسونو د مینځلو واجب اندازه: د ګوتو له څوکو څخه تر څنګلو پورې، د دواړو څنګلو له مینځلو سره.

26

د ښي لاس د ګوتو د څوکو په وینځلو سره یې پیلوو او ګوتې خلالوو داسې چې دواړه لاسونه یو بل کې ورکوو، او بیا اوبه تر څنګلو پورې ورسول شي..

27

.. بیا کیڼ لاس ته انتقالیږو او و ینځو یې د لاس د ګوتو خلالولو سره تر څنګل پورې..

28

بیا د سر مسحې ته انتقالیږو.. لاسونه په تازه اوبو سره لندوو، بیا هماغه لانده لاسونه د سر مخامخ برخې د ویښتانو د شنه کیدو ځای باندې ږدو او بیا یې تر څټ پورې بوځو، بیا یې بیرته هماغه ځای ته رارسوو چې پیل مو ترې کړی و.. او د سر په مقدار کې د ویښتانو والا او ګنجي تر منځ توپیر نشته..

29

بیا له مسحې څخه په پاتې اوبو سره غوږونه مسح کوو، دا کار یو ځلې ترسره کوو..

30

د غوږونو د مسح کولو طریقه دا ده چې د غوږونو په دواړو سوریو کې د شهادت ګوتې ننباسو او مسح یې کړو او په غټو ګوتو سره د غوږونو شاګانې مسح کړو، نو پدې سره به مو د دواړو غوږونو مخ او شاګانې مسح کړي وي.

31

بیا د پښو مینځلو ته انتقالیږو او د دواړو پښو د واجب مینځلو مقدار: د پښو له ځوکو څخه تر ګیټیو (ښنګرو) پورې دی او د پوندو مینځل واجب دي.

32

په ښی پښې باندې پیل کوو او د پښو ګوتې خلالوو او د دواړو پوندو او پښو د شا برخې مینځلو ته پاملرنه کوو...

33

بیا کینه پښه داسې مینځو لکه څرنګه چې مو ښۍ پښه مینځلې وه او د ګوتو خلالول نه هېروو او ډاډ تر لاسه کوو چې پښه په بشپړه توګه مینځل شوې ده او اوبه پوندو او ښنګرو ته رسیدلي دي.

34

أشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلَّا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وأشهدُ أنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

أشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلَّا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وأشهدُ أنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، هغه یو دی، او شریک نه لري، او شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی.

35

له اودس نه وروسته ذکر او دعا کول سنت دي، او سنت دی چې دا هم اضافه کړي:

36

اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَوَّابِينَ، واجْعَلْني مِنَ المُتَطَهِّرِينَ.

اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَوَّابِينَ، واجْعَلْني مِنَ المُتَطَهِّرِينَ.

اې الله ما له توبه کوونکو څخه وګرځوه او ما له پاکو کسانو څخه وګرځوه.

37

یا:

سُبْحانَكَ اللَّهُمَّ وبِحَمْدِكَ، أشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلاَّ أنْتَ، أسْتَغْفِرُكَ وأتُوبُ إِلَيْكَ
سُبْحانَكَ اللَّهُمَّ وبِحَمْدِكَ، أشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلاَّ أنْتَ، أسْتَغْفِرُكَ وأتُوبُ إِلَيْكَ

اې الله تا لره پاكي دى او ټوله ستاينه تا لره ده، زه شاهدي وركوم چې له تا پرته بل معبود نشته، زه له تا بخښنه غواړم او تاته توبه كوم.

م

هغه څه چې پر سکرين ليکل شوي دي

1

څنګه اودس وکړم؟

2

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}
{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}

[اې هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! كله چې تاسو لمانځه ته پاڅيږئ، نو تاسو خپل مخونه او خپل لاسونه تر څنګلو پورې ووينځئ او د خپلو سرونو مسح وكړئ او تر ګيټو (بښنګرو) پورې خپلې پښې (ووينځئ)].

[سورة المائدة: ايت 6]

3

د لاسونو مینځل

4

مضمضه او استنشاق

5

یوځای کول

6

جلا کول

7

د مخ مینځل

8

لمړی

9

دوهمه

10

نیت او بسم الله ویل

11

د لاسونو مینځل

12

مضمضه کول

13

استنشاق کول

14

د مخ مینځل

15

تر څنګلو پورې د دواړو لاسونو مینځل

16

د سر مسح کول او د غوږونو مسح کول

17

د پښو مینځل د ګیټیو (ښنګرو) سره

18

د لاسونو مینځل

19

د سر مسحه کول

20

د سر پیل = د تندي منحني (ګول) ځای او په طبیعی توګه د ویښتانو د شنه کیدو له ځای څخه ...

21

د سر پای = د څټ د ویښتانو د شنه کیدو تر پایه..

22

د غوږونو مسحه

23

د پښو مينځل

24

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«ويلٌ للأعقابِ منَ النَّار، أسبِغُوا الوضوء».

«ويلٌ للأعقابِ منَ النَّار، أسبِغُوا الوضوء».

"افسوس او هلاکت دې وي پر هغه چا چې د پښو پوندي نه مينځي، په ښه توګه اودس وکړئ".

ابو داود روايت کړی.

25

«أشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلَّا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وأشهدُ أنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

«أشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلَّا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وأشهدُ أنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

"زه شاهدي ورکوم چې د الله پرته بل معبود نشته، يو دی، هغه شريک نه لري، او زه شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی".

مسلم روايت کړی.

26

«اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَوَّابِينَ، واجْعَلْني مِنَ المُتَطَهِّرِينَ».

«اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَوَّابِينَ، واجْعَلْني مِنَ المُتَطَهِّرِينَ».

"اې الله ما له توبه کوونکو څخه وګرځوه، او ما د پاکي کوونکو څخه وګرځوه".

ترمذي روايت کړی.

«سُبْحانَكَ اللَّهُمَّ وبِحَمْدِكَ، أشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلَّا أنتَ، أسْتَغْفِرُكَ وأتُوبُ إلَيكَ».
«سُبْحانَكَ اللَّهُمَّ وبِحَمْدِكَ، أشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلَّا أنتَ، أسْتَغْفِرُكَ وأتُوبُ إلَيكَ».
"اې الله تا لره پاکي ده او تا لره ستاينه ده، زه شاهدي ورکوم چې له تا پرته بل معبود نشته، زه له تا څخه بښنه غواړم او تا ته توبه کوم".
نسايي په "عمل اليوم والليلة" کې روايت کړی دی.
څنګه لمونځ وکړم؟
لمونځ له تکبير څخه تر سلام ګرځولو پورې..
م
غږ
١
د لمانځه لپاره د اقامت غږ ..
٢
د اقامت غږ جريان لري..
نيت را په زړه کول د لمانځه لومړی کار دی چې لمونځ کوونکی يې کوي، او ځای يې زړه دی
٣
قبلې ته مخ کوو، او که ته امام يا منفرد يې، نو مخې ته دې سُتره کيږده.

۴

الله اکبر ..

تکبير تحريمه او پدې سره لمانځه ته داخليږو، او بايد په ژبه وويل شي..

۵

او د تکبير پر مهال خپل لاسونه د اوږو برابر پورته کوو، او د ګوتو مخ قبلې ته کوو.

يا:

په همدې طريقې سره يې د غوږونو په برابرۍ پورته کوو..

۶

له تحريمه تکبير څخه وروسته دواړه لاسونه په سينه او يا د سينې لاندې د نوم د پاسه او يا د نوم نه لاندې ږدو او دا ټول صحيح دي.

ښی لاس په کيڼ (چپ) لاس باندې ږدو

يا د ښي لاس مخ د کيڼ لاس له شا څخه تاوو.

او يا په ښي لاس د چپ لاس مړوند نيسو ..

۷

«اللهمَّ باعِدْ بينِي وبينَ خَطاياىَ كما باعَدتَّ بينَ المشرقِ والمَغرب، اللهمَّ نقِّني من خطاياىَ كما يُنقَّى الثَّوبُ الأبيضُ منَ الدَّنَس، اللهمَّ اغسِلْنِي من خَطَاياىَ بالثَّلجِ والماءِ والبَرَد».

«ای الله! زما او زما د ګناهونو تر منځ دومره لرې والی راولې، لکه څنګه چې دې د مشرق او مغرب په منځ کې لرې

والی راوستی دی، ای الله! ما له خپلو ګناهونو نه داسې پاک کړې، لکه څنګه چې سپينه جامه له خيرو نه پاکيږي، ای الله! ما له ګناهونو نه په واوره، اوبو او ږلۍ سره ووينځې».

د تکبير تحريمې له ويلو وروسته او له قرائت څخه مخکې د استفتاح دعا وايو، او د استفتاح لپاره نورې دعاګانې هم ثابتې دي، او سنت دا دی چې د دعاګانو په ويلو کې تنوع وشي..

٨

أعوذُ باللهِ منَ الشَّيطانِ الرَّجيم..

زه له رټل شوي شيطان نه په الله تعالی پورې پناه نيسم.

له استفتاح څخه وروسته: استعاذه، او ورپسې د فاتحې سورت ويل دي ..

٩

په خشوع او اطمينان سره، يو يو آيت تلاوت کوو.

١٠

آمين ..

او ددې ويل د لمونځ کوونکي لپاره سنت دي، که امام وي يا مأموم او يا منفرد او دا د فاتحې يو آيت نه، بلکې دعاء ده چې معنا يې ده: اې الله دعا مې قبوله کړه.

١١

له فاتحې نه وروسته له قرآن کريم څخه يو څه لولو چې آسان وي؛ يا بشپړ سورت او يا د سورت يوه برخه لولو او د

تلاوت نه وروسته يوه لنډه دمه کوو مخکې له دې چې رکوع ته لاړ شو.

۱۲

الله اکبر ..

له قيام څخه رکوع ته د انتقاليدو تکبير وايو..

دا په لمانځه کې دويم ځای دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به لاسونه پورته کول؛ نو سنت دا دي چې خپل لاسونه د اوږو يا غوږونو برابر پورته کړو.

۱۳

لاسونه پر زنګنونو ږدو، په داسې حال کې چې ګوتې مو خلاصې وي او زنګنونه پرې کلک نيسو.

په رکوع کې اطمينان حاصلوو او خپل لاسونه له اړخونو څخه لرې ساتو، او د خپل مخ هډوکي ته يوې خوا ته ميلان نه ورکوو.

۱۴

په داسې حال کې چې ملا برابره وي او لينده نه وي او سر له ملا سره برابر وي، نه يې پورته نيسو او نه ښکته.

۱۵

«سبحانَ ربِّيَ العظيم»

«زما ستر رب لره پاکي ده».

تسبیح درې ځلې تکراروو، چې دا تر ټولو لږ کمال دی، او یو ځل تسبیح ویل بسنه کوي، او که وغواړو نور هم زیاتولای شو، او په مأثور تسبیح کې تنوع کوو.
۱۶
هغه اذکار چې په رکوع کې ویل کیږي مختلف دي.
۱۷
سَمِعَ اللهُ لمَنْ حَمِدَه..
الله د هغه چا ستاینه واوریده چې هغه یې وستایه.
دا هغه مهال وایو چې له رکوع څخه پورته کیږو او یوازې لمونځ کوو، او یا دا چې زموږ څخه یو تن امام وي ..
۱۸
خپل لاسونه تر اوږو یا د غوږونو په برابرۍ پورته کوو، او دا دریم ځای دی چې لاسونه پکې پورته کوو.
۱۹
بیا نیغ ودریږو، او وایو:
«رَبَّنَا ولكَ الحَمْدُ».
«زموږ ربه! ټولې ستاینې ستا لپاره دي».
۲۰
له رکوع څخه د پورته کېدو نه وروسته، کولی شو خپل لاسونه زوړند پریږدو او یا یې وتړو ..
۲۱

له رکوع نه وروسته نېغ درېدل او په هغه کې اطمينان کول سنت دي.

۲۲

الله اکبر ..

بيا ځمکې ته ښکته کېږو او له قيام څخه سجدې ته د انتقالېدو تکبير وايو.

لاسونه د زنګونونو څخه مخکې ږدو، او يا زنګونونه د لاسونو څخه مخکې ږدو، هر يو چې زموږ لپاره اسانه و همغه کوو.

۲۳

او پر اوو هډوکو باندې بايد سجده وکړو؛ لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته راښودلې دي.

تندی سره له پوزې، دواړه لاسونه، دواړه قدمونه، دواړه زنګنونه.

۲۴

د پښو د ګوتو څوکې قبلې په لور ګرځوو، او پښې سيده دروو.

ورنونه يو له بله بېلوو او خېټه له ورنونو څخه ليرې ساتو.

موږ لاسونه د ځمکې او بغلونو ساتو، پداسې حال کې چې په جماعت لمانځه کې نه يو او زموږ شاوخوا خلکو ته د زيان رسولو ويره نه وي.

لاسونه د غوږونو او يا اوږو برابر پورته کوو..

٢٥

«سبحانَ ربِّي الأعلى»..

«پاکي بيانوم د خپل رب چې ډېر اوچت دی».

تسبيح درې ځلې تکراروو، چې دا د بشپړتيا تر ټولو لږ حد دی او يو ځل تسبيح ويل بسنه کوي، او که وغواړو نو زياتولای يې شو، او په مأثور تسبيح کې تنوع کوو، او د دنيا او آخرت د ښېګڼو څخه مو چې هر څه خوښه وي دعا کوو.

٢٦

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ».

"بنده د سجدې پر مهال خپل رب ته تر ټولو ډېر نږدې وي، نو ډېره دعا وکړئ".

٢٧

الله اکبر ..

د "الله اکبر" په ويلو سره له سجدې څخه سر پورته کوو.

کيڼه (چپه) پښه هواره وو او په ډاډمنه توګه پرې کښېنو او ښۍ پښه دروو، او ګوتې يې قبلې لور ته کوو.

او يا ..

دواړه پښې دروو، او پر پوندو کښېنو.

څنګلې غوړوو، ښۍ څنګل په ښي ورون، او کيڼ څنګل په کيڼ ورون، زنګون ته نږدې او يا په زنګون باندې ږدو.

٢٨

ربِّي اغفر لي..

اي زما ربه! ما ته بخښنه وکړه.

دغه دعا د دوو سجدو تر منځ وايو، وروسته له دې چې داډمن کښېنو..

۲۹

الله اکبر ..

د "الله اکبر" په ويلو سره دويمې سجدې ته ښکته کېږو، او دا په څرنګوالي او هغه څه کې چې بايد په کې وويل شي د لومړۍ سجدې په څېر ده..

۳۰

الله اکبر ..

دويم رکعت د لومړي رکعت په څېر اداء کوو:

د لاسونو اېښودل، د فاتحې لوستل، د قرآن کريم څخه يو يا څو آيتونه لوستل ..

بيا رکوع کوو..

الله اکبر ..

بيا پورته کېږو ..

«سمع الله لمن حمده»،

الله د ثنا ويونکي غږ واوريده.

بيا سجدې ته ښکته کېږو ..

الله اکبر ..

دوه سجدې کوو، بیا تشهد ته کښېنو..

الله اکبر ..

الله اکبر ..

الله اکبر ..

۳۱

د دویم رکعت له بشپړولو وروسته تشهد ته غوړیدلي کېنو.

۳۲

غوړیدلي ناسته د دوه رکعتي لمونځونو په تشهد کې وي؛ لکه سهار، جمعه، او د اخترونو لمونځ، لکه څرنګه چې په درې او څلور رکعتي لمونځونو، او د دوو سجدو په منځ کې ناسته کې ترسره کیږي..

۳۳

په هغه چا باندې حرج نشته چې د بدن د غټوالي له کبله، او یا د پښو د درد او داسې نور عواملو له کبله نشي کولی چې د افتراش په بڼه کښیني چې (ښي پښه ودروي، او چپه پښه څملوي) نو هر ډول ناسته چې ورته اسانه وي په هغه شکل دې کښېني.

۳۴

په تشهد کې ښی لاس په ښي ورانه او چپ لاس په چپ ورانه ږدو، او د شهادت له ګوتې پرته نورې ټولې ګوتې راټولوو، او د شهادت په ګوته اشاره کوو.

۳۵

د منځ ګوته د غټې ګوتې سره حلقه کوو او په مسواکۍ ګوته اشاره کوو..

٣٦

او کیڼ لاس چې دی نو یا یې پر چپ ورون غوړوو او یا یې د زنګانه له سترګي تاوو.

د تشهد پر مهال د ښي لاس شهادت ګوتې ته کتل مستحب دي.

٣٧

«التَّحِيَّاتُ للهِ والصَّلواتُ والطَّيِّباتُ، السلامُ عليكَ أيُّها النبيُّ ورحمةُ اللهِ وبرَكاتُه، السلامُ علَينا وعلى عِبادِ اللهِ الصَّالِحِين، أشهدُ أن لا إلهَ إلَّا اللهُ، وأشهدُ أنَّ محمَّدًا عبدُهُ ورسولُه».

«ټول ژبنې، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا اې پیغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نیکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالی نه پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی».

لومړی تشهد یوازې هغه مهال وایو چې لمونځ درې او یا څلور رکعته وي.

او که لمونځ دوه رکعتي وي لکه د سهار لمونځ، د جمعې لمونځ او یا د دوو اخترونو لمونځونه، نو د ابراهیمي درود په لوستلو سره تشهد بشپړوو..

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»

یاالله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ رحمت و اوروه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پر کورنۍ دې چې لورولی و، بېشکه ته ستایلی شوی او لوی یې. یا الله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه و اوروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې لورولی و، بېشکه ته ستایل شوی او لوي یې».

۳۸

السلامُ علیکُم ورحمةُ اللهِ..

السلامُ علیکُم ورحمةُ اللهِ..

سلام د تشهد له بشپړولو او د مسنونه دعاګانو له لوستلو وروسته ترسره کیږي .. لېکن دا په دوه رکعتي لمونځ کې دی.

۳۹

په تیټ غږ سره: الله اکبر اورو

خو که لمونځ درې رکعتي وي لکه د ماښام لمونځ، او یا څلور رکعتي وي لکه د ماسپښین، مازدیګر، او ماخوستن لمونځونه.

۴۰

نو د لومړي تشهد نه وروسته پاڅېږو يو رکعت لمونځ کوو، که د ماښام لمونځ وي، او که د ماسپښين، او مازديګر او ماخوستن لمونځونه وي نو دوه رکعته لمونځ کوو، او په دواړو رکعتونو کې د فاتحې سورت وايو، سر بيره پر ټولو جزئياتو چې مخکې مو د رکوع، سجدې، قيام او ناستې په حالت کې بيان کړ.

۴۱

الله اکبر ..

۴۲

هغه صلى الله عليه وسلم به د هر لمانځه په اخري تشهد کې چې دوه تشهد به يې درلودل د تورک په بڼه کېناسته..

۴۳

د تورک ناسته يوازې د درې او څلور رکعتي لمونځونو په وروستي تشهد کې وي، او له يوې څخه زياتې بڼې لري:

۴۴

چپه پښه څملول، او ښۍ پښه درول، او دواړه پښې له ښي اړخ څخه راوېستل، او په ځمکه کېناستل لږول ..

او يا:

دواړه پښې څملول، او له ښي اړخ څخه يې راوېستل.

او يا:

ښۍ پښه درول، او کيڼه پښه د ښي ورانه او پنډۍ تر مينځ ننوېستل.

۴۵

د وروستي تشهد په ناسته کې، تشهد وايو، او وروسته په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود وايو.

۴۶

له سلام اړولو مخکې او له تشهد څخه وروسته پر الله تعالی له څلورو شيانو پناه غواړو : د دوزخ او قبر له عذاب څخه، د ژوند او مرګ له فتنې څخه او د دجال له فتنې څخه ..

بيا د دنيا او آخرت له ښېګڼو څخه چه څه غواړو دعا کوو..

۴۷

السلامُ عليكُمْ ورَحمَةُ الله

السلامُ عليكُمْ ورَحمَةُ الله

د لمانځه پای او له هغه څخه وتل پرته له سلام سره نه واقع کيږي..

۴۸

په سلام سره لمونځ پای ته رسوو.

أسْتَغْفِرُ الله.. أسْتَغْفِرُ الله.. أسْتَغْفِرُ الله..

اې الله بخښنه غواړم .. اې الله بخښنه غواړم .. اې الله بخښنه غواړم ..

۴۹

سنت دا دی چې کله لمونځ کوونکی سلام وګرځوي چې درې ځلې له الله تعالی بخښنه وغواړي، بيا په هغه څه سره

الله تعالی یاد کړي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل شوي دي.

م

پر سکرین لیکل شوی

١

که ته امام یې او یا یواځې یې

٢

تکبیر تحریمه

٣

لاسونه د اوږو په برابری پورته کوو

۴

او یا د غوږونو په برابری په ورته طریقې سره

۵

لاسونه د سینې له پاسه ږدو

۶

او یا د نامه نه پورته

٧

او یا له نامه نه ښکته

٨

ښی لاس په کیڼ لاس باندې ږدو

٩

او يا په ښي لاس باندې د چپ لاس مړوند نيسو
١٠
د استفتاح (پيل) دعا
١١
«اللهمَّ باعِدْ بينِي وبينَ خَطاياي كما باعَدتَّ بينَ المشرقِ والمَغرب، اللهمَّ نقِّني من خطايايَ كما يُنقَّى الثَّوبُ الأبيضُ منَ الدَّنَس، اللهمَّ اغسِلْنِي من خَطَاياي بالثَّلجِ والماءِ والبَرَد». رواه مسلم.
«اې الله! له ما څخه زما ګناهونه دومره لرې کړې، لکه شرق او غرب دې چې له يو بل څخه لرې کړي دي، اې الله! ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړې لکه سپينه جامه چې له خيرې څخه پاکه شي، اې الله! ما له ګناهونو څخه په واوره، اوبو او ږلۍ و مينځې ( پاک کړې)».
١٢
د دې دعاګانو تر منځ تنوع کول سنت دي
١٣
پناه غوښتل
١٤
أعوذُ باللهِ منَ الشَّيطانِ الرَّجِيم
زه له رټل شوي شيطان نه په الله تعالی پورې پناه نيسم.
١٥
د فاتحې سورت

١٦

(الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم مالك يوم الدين إياك نعبد وإياك نستعين اهدنا الصراط المستقيم صراط الذين أنعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين)

ټولې ستاينې (صفتونه) خاص الله لره دي، چې د عالميانو پالونکی دی. ډېر مهربان اوتل (همېشه) مهربان. څښتن (مالک) د ورځې د جزا دی. خاص (يوازې) ستا عبادت کوو، او خاص له تا څخه مرسته (مدد) غواړو. وښايه موږ ته سمه (نېغه) لاره. د هغو کسانو لاره چې تا پر هغوی پېرزوېنه کړېده، نه د هغو کسانو لاره چې غضب ورباندې شوی او نه د هغو کسانو لاره چې لار ورکي (ګمراهان) دي.

١٧

آمين

١٨

دعاء په دې معنا چې: اې الله دعا مې قبولې کړه

١٩

له قرآن کريم څخه يو څه لولو چې آسان وي

٢٠

رکوع ..

٢١

الله اکبر

٢٢

ملا باید برابره وي، نه دا چې لینده وي..
۲۳
«سبحانَ ربِّيَ العظیم»
زما ستر رب لره پاکي ده.
۲۴
په رکوع کې له مسنونه اذکارو څخه
۲۵
«سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ، رَبُّ المَلَائِكَةِ وَالرُّوْحِ»
"پاکي دې وي پاک ذات لره، د ملایکو او روح رب لره".
۲۶
سُبحانَكَ ربَّنا وبحمدِك، اللهمَّ اغفِرْ لي..
اې زموږ ربه ته منزه او پاک یې، او ټولې ستاینې تا لره دي، اې الله ما ته بخښنه وکړه..
۲۷
سَمِعَ اللهُ لمَن حَمِدَه
الله د ثنا ویونکي ستاینه واوریده
۲۸
ربَّنا ولكَ الحمدُ، حمدًا كثيرًا طيِّبًا مُبارَكًا فيه
ربه! ټولې ستاینې ستا لپاره دي، ډېرې پاکې او مبارکې ستاینې
۲۹

لاسونه خلاص پرېږدو

۳۰

او یا یې تړو

۳۱

سجده ..

۳۲

تندی له پوزې سره

۳۳

لاسونه/ مړوندونه

۳۴

زنګونونه

۳۵

پښې/دواړه قدمونه

۳۶

سُبحانَ ربِّيَ الأعلى

زما د رب شان ډېر لوی دی ...

۳۷

«أقربُ ما يكونُ العبدُ من ربِّه وهوَ ساجِدٌ، فأكثِروا الدُّعاء». رواه مسلم

"بنده د سجدې پر مهال خپل رب ته تر ټولو ډېر نږدې وي، نو ډېره دعا وکړئ".

۳۸

غوړېدلي ناسته..

۳۹

د اقعاء ناسته ..

(دواړه پښې درول او پر پوندو کېناستل)

۴۰

ربِّ اغفِرْ لي

اې الله ماته بخښنه وکړه (درې ځلې)

۴۱

اللهمَّ اغفِرْ لي، وارحَمني، واجبُرني، واهدِني، وارزُقني ..

«اې الله، ما ته بخښنه وکړه، په ما رحم وکړه، ما جبران کړه، ما ته هدايت وکړه، ما ته روزي راکړه» ..

۴۲

سهار

۴۳

جمعه

۴۴

دوه اخترونه

۴۵

ماسپښين

۴۶

مازدیگر
۴۷
ماښام
۴۸
ماخوستن
۴۹
«التَّحِيَّاتُ للهِ والصَّلواتُ والطَّيِّباتُ، السلامُ عليكَ أيُّها النبيُّ ورحمةُ اللهِ وبرَكاتُه، السلامُ علَينا وعلى عِبادِ اللهِ الصَّالِحِين، أشهدُ أن لا إلهَ إلَّا اللهُ، وأشهدُ أنَّ محمَّدًا عبدُهُ ورسولُه».

«ټول ژبنې، بدني، او مالي عبادتونه الله جل جلاله لره دي، سلام او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي پر تا اې پيغمبره، سلام دې وي پر مونږ او د الله پر نيکو بنده ګانو، ګواهي ورکوم چې له الله تعالی نه پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته او ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی».

۵۰

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»

«یاالله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ رحمت و اوروه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پر کورنۍ دې چې لورولي و، بېشکه ته ستايلی شوی او لوي يې.

يا الله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه وورو‌ه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې لورولي و، بېشکه ته ستایل شوی او لوي یې».

۵۱

ماسپښین، مازدیګر، ماښام، ماخوستن

۵۲

سهار - جمعه - دواړه اخترونه ..

۵۳

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»

«یاالله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ رحمت و اوروه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پر کورنۍ دې چې لورولی و، بېشکه ته ستایلی شوی او لوي یې، یا الله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه و اوروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنۍ دې چې لورولی و، بېشکه ته ستایل شوی او لوي یې».

۵۴

السَّلامُ علیکُم ورحمةُ الله

۵۵

«وإذا جلَسَ في الرَّكعةِ الآخِرةِ، قدَّم رِجْلَه اليُسرى، ونصَبَ الأُخرى، وقعَدَ على مَقعَدَتِه».

او کله چې اخري رکعت کې کښېني، نو چپه پښه دې مخکې کړي، بله پښه دې ودروي، او پر خپل کوناټي دې کښېني». بخاري روایت کړی.

۵۶

د تورک ناسته

(چپه پښه څملول، او ښۍ پښه درول او دواړه پښې له ښي اړخ څخه راوېستل، او په ځمکه کېناستل).

۵۷

«اللهم إني أعوذ بك من عذاب جهنم، ومن عذاب القبر، ومن فتنة المحيا والممات، ومن فتنة المسيح الدجال».

"اې الله زه تاته د جهنم له عذاب نه، د قبر له عذاب نه، او د ژوند او مرګ له فتنې نه، او د مسیح دجال له فتنې څخه پناه در وړم".

۵۸

«اللَّهمَّ إنِّي ظلَمتُ نَفسي ظلمًا كثيرًا، ولا يغفرُ الذُّنوبَ إلَّا أنتَ، فاغفِر لي مغفرةً من عندِكَ وارحَمني إنَّكَ أنتَ الغفورُ الرَّحيمُ». رواه البخاري.

(یا الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی دی او له تا پرته بل څوک ګناهونه نه شي بخښلی، نو ما ته له خپل لورې بخښنه وکړه، او پر ما مهرباني وکړه، بېشکه یوازې ته بخښوونکی او رحم کوونکی یې).

۵۹

درې ځلي استغفر الله ويل.

۶۰

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «إِنَّ أَوَّلَ ما يُحاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَومَ القِيامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاتُهُ؛ فَإِنْ صَلَحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ، وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خابَ وَخَسِرَ».

«د قيامت په ورځ به د بنده سره تر ټولو لومړی د هغه د اعمالو څخه د لمونځ حساب کيږي؛ که لمونځ يې سم و نو هغه بريالی او کامياب دی او که نا سم و، نو هغه به نا اميد او زيانمن وي». ابو داود، ترمذي او نسايی روايت کړی دی.

# فهرست

No table of contents entries found

ps187v1.0 - 03/09/2026